شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۱۱۲ ګڼه / سه‌شنبه د صفرالمظفر ٦مه ۱٤٤۸هـ.ق / د چنګاښ ۳۰مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۲۱مه ۲۰۲٦ میلادي

د نورستان له سېلاب ځپلو سره د اسلامي امارت د خواشینۍ پیغام!

د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد په نورستان ولایت کې د وروستیو سېلابونو له امله خلکو ته پر اوښتو ځانې او مالي زیانونو خواشیني څرګنده کړې ده.

ښاغلي مجاهد په خپله ایکس پاڼه لیکلي، چې په دې پېښه کې شهیدانو ته د جنت الفردوس او ټپیانو ته د عاجلې روغتیا هیله کوي.

نومورې زیاته کړې، د امارت اړوند ارګانونه د زیانمنو شویو خلکو د ژغورنې، د سر او مال د خوندیتوب او د اړینو مرستو د رسولو لپاره په هڅو بوخت دي او ان‌شاءالله ښه رسېدنه به ورته وشي.

د یادونې وړ ده، چې د نورستان ولایت په مرکز پارون کې د وروستیو سېلابونو له امله یو شمېر ... **۲مخ**

د الشفا روغتون د بیارغونې چارې د روان کال تر پایه بشپړېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت خبر ورکړی، چې په کابل ښار کې د الشفا روغتون د بیارغونې او پراختیا چارې په چټکۍ روانې دي او تر دې مهاله یې شاوخوا ۶۰ سلنه کار بشپړ شوی دی. د یاد معاونیت د معلوماتو له مخې، تاکل شوې ده چې دغه روغتون د روان ۱۴۰۵ لمریز کال تر پایه بشپړ او د ګټې اخیستنې لپاره هېوادوالو ته وسپارل شي. اقتصادي معاونیت ویلي: اسلامي امارت د هېواد په کچه د معیاري روغتیایي خدمتونو د پراختیا او د روغتیایي زېربناوو د پیاوړتیا لپاره خانګړې پاملرنه لري او په همدې موخه یې د الشفا روغتون د بیارغونې او پراختیا لپاره یو میلیارد او ۴۰۰ میلیونه افغانۍ ځانګړې کړې دي. د یادې پروژې ټول لګښت د اسلامي امارت له بودجې تمویلېږي، په داسې حال کې چې دوه‌دانیزو چارو عملي تطبیق د ملي پراختیا شرکت له لوري ترسره کېږي.

د مسئولینو په وینا، د بیارغونې په دې پروژه کې د سراپا ناروغانو لپاره د یوې شپږ پوړیزې ودانۍ جوړول، د طبي اکسیجن د تولید او برابرولو لپاره د یوې دوه پوړیزې ودانۍ رغول ... **۲مخ**

تېر کال د کانونو د استخراج ۱۰۹ ټرونونه لاسلیک شوي

د کانونو او پټرولیم وزارت ویلي: په تېر لمریز کال کې یې له کورنیو شرکتونو سره د کانونو د استخراج ۱۰۹ ټرونونه لاسلیک کړي دي. د یاد وزارت په وینا، له دغو ټرونونو ځخه یو یې د لویې کچې پروژه ده او د ټولو ټرونونو ټولیز ارزښت له ۱۰.۲ میلیاردو افغانیو ځخه اوړي. د کانونو وزارت زیاتوي: د کانونو د استخراج دا ټرونونه د هېواد د طبیعي زېرمو د اغېزمنې کټې اخیستنې او اقتصادي ودې په موخه ترسره شوي دي. همداراز د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، د افغانستان د کانونو په سکتور کې د سیمې د هېوادونو د پانګونې لېوالتیا ورځ تر بلې زیاتېږي او تمه ده چې په راتلونکي کې به په دې برخه کې نورې پانګونې هم وشي.

تأکید افغانستان و ترکیه بر تقویت روابط و همکاری‌های مشترک

نقیب‌الله احمدی، سرپرست سفارت امارت اسلامی افغانستان در مالیزیا، در جریان سفر خود به کشور برونئی دارالسلام با حامد ایرسوی، سفیر ترکیه، دیدار و گفت‌وگو کرد. براساس خبرنامه سفارت افغانستان در مالیزیا، در این دیدار دو طرف درباره روابط تاریخی و دوستانه میان افغانستان و ترکیه، وضعیت همکاری‌های دوجانبه و راه‌های گسترش تعاملات میان دو کشور بحث و تبادل نظر کردند. در این دیدار، نقیب‌الله احمدی و حامد ایرسوی بر اهمیت تداوم روابط میان افغانستان و ترکیه تأکید کرده و خواستار تقویت همکاری‌ها در زمینه‌های مختلف شدند. **ص۳**

له هرات څخه ایران ته د غوښې دویمه جوپه صادره شوه

د هرات د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وایي، چې د انصار صنعتي مسلخ له لوري د ۹.۴ ټنه وزن په لرلو سره ایران ته د غوښې دویمه جوپه صادره شوه. د یاد ریاست د مالدارۍ چارو آمر مولوي عمر قاصد ویلي، چې له دې ولایت څخه د غوښې د صادراتو بهیر دوام لري او د بازار موندنې هڅې لا چټکې شوې دي. ورته مهال د یاد مسلخ مسئولین وایي: دغه مسلخ چې له ۱۰ کلونو څخه ډېره مخینه لري له ۲۰۰ څخه ... **۲مخ**

کندهار ته د کرنې او اقتصادي فرصتونو د ارزونې په موخه د نړیوال پلاوي سفر

د نړیوال بانک او آسیا پراختیایي بانک (ADB) یو لوړپوړی پلاوی کندهار ولایت ته په سفر تللی، څو د کرنې سکتور وضعیت وارزوي او په دغه ولایت کې د اقتصادي فرصتونو د پراختیا لپاره د شته ظرفیتونو او امکاناتو په اړه ارزونه ترسره کړي. د خپرو شویو معلوماتو له مخې، په دغه پلاوي کې د افغانستان لپاره د نړیوال بانک مشر، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خورا او کرنې د نړیوال ... **۲مخ**

د پاکستان داخلي بحرانونه او د افغانستان پر وړاندې متناقض سیاست

۲مخ

سر مقاله



مولوي محمد یونس خالص؛ د علم، قلم او جهاد ځلاند ستوری!

ځینې شخصیتونه داسې وي چې له وفات وروسته هم د خپلو افکارو، خدمتونو او اغېزو له امله د ولسونو په حافظه کې ژوندي پاتې کېږي. د افغانستان په معاصر تاریخ کې اروابنیاد مولوي محمد یونس خالص «رحمه الله» له همدغو شخصیتونو څخه و؛ دی داسې یو ستر عالم، لیکوال، مجاهد او سیاستوال و چې د خپل ژوند هره شېبه یې د دین، هېواد او ولس د خیر لپاره وقف کړې وه.

نومورې اوس هم د علم، تقوا، اخلاص او ثابت دریځ له امله د خلکو په زړونو کې ځانګړی ځای لري. نومورې یوازې د شوروي اشغال پر وړاندې د افغان جهاد له مخکښو مشرانو څخه نه و، بلکې د اسلامي علومو د تدریس، لیکوالې، روزنې او فکري بیداري په ډګرونو کې یې هم نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي دي.

مولوي محمد یونس خالص په داسې تاریخي پراو کې د هېواد د برخلیک په تاکلو کې وزده واخیسته چې افغانستان له سختو سیاسي او پوځي ازمېنو سره مخ و. ده د اسلامي ارزښتونو، ملي خپلواکۍ او د ولس د یووالي د پیاوړتیا لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې او د خپلې رهبرۍ، زهد، تقوا او ساده ژوند له امله یې د خلکو پراخ باور او درناوی ترلاسه کړ.

د خالص بابا علمي شخصیت د ده د جهادي مبارزې تر څنګ یو بل روښانه اړخ و. نومورې د اسلامي علومو په تدریس کې ګڼ شاګردان وروزل او د پښتو ادب او اسلامي فکر په ډګر کې یې ارزښتناک آثار او لیکنې پرېښودې. دغه علمي میراث تر نن ورځې پورې د دیني او علمي څېړنو د مینه‌والو لپاره د استفادې وړ ګڼل کېږي.

د نومورې د شخصیت یوه بله مهمه ځانګړنه له ولس سره نږدې اړیکه، تواضع، ساده ژوند او د علم درناوی و. ده باور درلود چې د امت د اصلاح، د هېواد د عزت او د اسلامي ارزښتونو د ساتنې بنسټ پر علم، اخلاص او عمل ولاړ دی. همدې ځانګړنو دی د افغانانو په منځ کې په یوه محبوب او اغېزناک شخصیت بدل کړی و. خالص بابا د شوروي اشغال پر وړاندې تاریخي مبارزه وکړه او د هېواد د خپلواکۍ لپاره یې درنې قربانۍ ورکړې. وروسته، د امریکایي اشغال پر مهال هم، ... **۲مخ**

کمک ۲.۴ میلیون دالری سویس برای نیازمندان و بازگشت‌کنندگان کشور

بخش افغانستان کمیساریای عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان، گفته که سوئیس دو میلیون و ۴۰۰ هزار دالر به این کشور کمک کرده است. این نهاد، دیروز در اکس نوشته که کمک سوئیس در بخش رسیدگی به نیازهای جوامع آسیب‌پذیر در افغانستان هزینه می‌شود. به گفته‌ی کمیساریای عالی سازمان ملل متحد، با این کمک امکان پاسخ‌گویی به نیازهای انسان‌دوستانه در افغانستان و پشتیبانی ... **ص۲**

د هوا له ګرمیدو سره سم د سولرونو پېر او پلور زیات شوی

شریعت: یو شمېر سولر پلورونکي وایي چې د کرمۍ په موسم کې مو بازارونه ښه شوي او د ورځې تر ۲۰۰ پورې سولرونه پلورو. دوی وایي چې هېواد ته مو ډېره برېښنا وارداتي ده او د هر موسم په بدلېدو سره یې ... **۳مخ**

د لوګر ۳۰۰ بستریز روغتون کې د وینې بانک او فیزیوتراپي څانګې پرانیستل شوې

د لوګر ولایت د مرکز پل‌علم اړوند د نائب امین‌الله خان لوګري په ۳۰۰ بستریز روغتون کې د لومړي ځل لپاره د وینې یو مجهز بانک او د فیزیوتراپۍ عصري څانګه د څه باندې ۱۰ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. په دې مراسمو کې د لوګر ولایت مرستیال، د عامې روغتیا رئیس او یو شمېر روغتیاپالو کډون کړی و. د لوګر ولایت مرستیال وویل: د دغو برخو فعالېدل په ولایت کې ... **۳مخ**

د قوشتېپې-درزاب سړک د رغونې چارو ۵۹ سلنه پرمختګ کړی

د جوزجان ولایت د قوشتېپې-درزاب ۵۱ کیلومتره سړک د ۱ میلیارد او ۵۱۳ میلیونه او ۷۳۲ زره افغانیو په لګښت د اساسي رغونې چارې د ټولګټو وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ د دیزاین‌بلټ ... **۳مخ**

کونړ ښاروالۍ د دوو پراختیایي پروژو چارې پیل کړې

د کونړ ولایت د اسعد اباد ښاروالۍ له لوري د ۱۲.۶ میلیونو افغانیو په لګښت د دوو پراختیایي پروژو چارې پیل شوې. د کونړ ښاروال مولوي رحمت الله شهامت باخبر اطلاعاتي اژانس ته وویل، چې په دغو پروژو کې د ۱.۸۵ کیلومتره پلیو لارو اساسي جوړول او د ۸۰۰ متره سړک قیر کول شامل دي، چې د ښاروالۍ له پراختیایي بودیجې څخه تمویلېږي. د نومورې په وینا، د یادو پروژو د عملي کېدو پر مهال به ۲۴۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شي او تاکل شوې چې چارې یې د څلورو میاشتو په موده کې بشپړې شي. په ورته وخت کې د کونړ ولایت مرستیال مولوي عبدالله حقاني وویل، چې ... **۳مخ**

چرا غربی‌ها قونسلگری‌های خود را در پاکستان برای همیشه می‌بندند؟

فداءالحق

ایالات متحده امریکا پس از هفت دهه حضور و فعالیت دیپلماتیک در پیشاور، تصمیم گرفت که قونسلگری خود در این شهر را برای همیشه ببندد. این تصمیم تنها پایان فعالیت یک مرکز دیپلماتیک نیست، بلکه نشان‌دهنده تغییر رویکرد واشنگتن در سیاست منطقه‌ای، اولویت‌های امنیتی و شیوه حضور آن در پاکستان نیز دانسته می‌شود. از سوی دیگر، اعلام فرانسه مبنی بر بستن قونسلگری این کشور در کراچی نشان می‌دهد که کشورهای غربی به‌گونه تدریجی در حال تغییر شکل حضور دیپلماتیک خود در پاکستان هستند. قونسلگری امریکا در اعلامیه‌ای رسمی خود گفته است که قونسلگری پیشاور از این پس برای همیشه بسته خواهد بود و تمام امور مربوط به ایالت خیبرپختونخوا پس از این از طریق بخش ویژه‌ای در سفارت امریکا در اسلام‌آباد پیش برده خواهد شد. به همین اساس، باشندگان این ایالت تمامی نیازهای قونسلی و دیپلماتیک خود را از طریق سفارت امریکا در اسلام‌آباد انجام خواهند داد. قونسلگری امریکا در پیشاور که از دهه پنجاه قرن بیستم میلادی فعالیت داشت، از جمله نمایندگی‌های مهم دیپلماتیک امریکا به شمار می‌رفت. این قونسلگری به‌خصوص پس از رویداد یازدهم سپتامبر سال ۲۰۰۱ میلادی، در هماهنگی‌های امنیتی مربوط به مناطق مرزی افغانستان و پاکستان و مدیریت برنامه‌های انکشافی نقش مهمی ایفا می‌کرد، اما پس از تحولات سال ۲۰۲۱ میلادی و خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، اهمیت امنیتی و عملیاتی پیشاور از دیدگاه واشنگتن به‌گونه آشکار کاهش یافت. منطقه‌ای که پیش از این یکی از مراکز مهم سیاست‌های امنیتی امریکا محسوب می‌شد، اکنون دیگر جایگاه گذشته خود را در اولویت‌های جدید واشنگتن ندارد. به همین دلیل، تمرکز سیاست خارجی امریکا به تدریج به سوی مدیریت مرکزی و ساختارهای محدودتر دیپلماتیک تغییر یافته است. به باور من، هرچند حکومت امریکا دلیل رسمی این تصمیم را تنظیم ساختار اداری و کاهش هزینه‌ها عنوان کرده است، اما این موضوع تنها به صرفه‌جویی اقتصادی محدود نمی‌شود. پس از پایان جنگ افغانستان و خروج نیروهای امریکایی از منطقه، معادلات امنیتی و سیاسی منطقه تغییر کرده است. همکاری‌های امنیتی میان پاکستان و امریکا نیز مانند گذشته باقی نمانده و تمرکز راهبردی واشنگتن به تدریج به بخش‌های دیگر جهان منتقل شده است. همین تغییرات سبب شده است که امریکا نیاز به بازنگری در ساختار حضور دیپلماتیک خود پیدا کند. پیشاور در دو دهه گذشته از جمله شهرهای پاکستان بود که با بیشترین تهدیدهای امنیتی روبه‌رو بوده است. حملات متعدد علیه نمایندگی‌های خارجی، نهادهای دولتی و مراکز امنیتی باعث شده بود هزینه‌های حفاظت از مأموریت‌های دیپلماتیک غربی بسیار افزایش یابد. به همین دلیل، حفظ مرکزی که اهمیت امنیتی و سیاسی گذشته خود را از دست داده باشد، برای واشنگتن دیگر مانند گذشته قابل توجیه به نظر نمی‌رسید. هم‌زمان، فرانسه نیز اعلام کرده است که قونسلگری خود را در شهر کراچی برای همیشه تعطیل می‌کند. هرچند پاریس دلیل این تصمیم را مشکلات امنیتی، سیاسی و اقتصادی عنوان کرده است، اما هم‌زمانی این دو تصمیم این برداشت را تقویت می‌کند که کشورهای غربی در حال تغییر شکل حضور خود در پاکستان هستند و تلاش دارند امور دیپلماتیک خود را از طریق مراکز محدودتر و متمرکزتر مدیریت کنند. به نظر من، چنین به نظر می‌رسد که پاکستان دیگر جایگاه گذشته خود را در اولویت‌های راهبردی کشورهای غربی ندارد. شکل حضور دیپلماتیک قدرت‌های جهانی نیز تغییر کرده است و به جای نمایندگی‌های گسترده منطقه‌ای، گرایش به سوی سفارتخانه‌های مرکزی، خدمات قونسلی دیجیتالی و مأموریت‌های دیپلماتیک محدودتر افزایش یافته است. موضوع مهم دیگر این است که روابط میان پاکستان و کشورهای غربی همواره با منافع متقابل امنیتی و راهبردی پیوند داشته است، اما در سال‌های اخیر، سطح اعتماد میان دو طرف به دلیل اختلافات امنیتی و سیاسی کاهش یافته است. پس از تحولات افغانستان، نوع همکاری‌های دو طرف نیز تغییر کرده و کشورهای غربی تلاش می‌کنند حضور دیپلماتیک خود را مطابق با نیازها و اولویت‌های جدید تنظیم کنند. مشکلات کنونی سیاسی، اقتصادی و امنیتی پاکستان نیز در به وجود آمدن این تغییرات بی‌تأثیر نبوده است. افزایش رویدادهای امنیتی در خیبرپختونخوا و بلوچستان، بی‌ثباتی سیاسی و فشارهای اقتصادی سبب شده است که امنیت و فعالیت مراکز دیپلماتیک خارجی با چالش‌های جدیدی روبه‌رو شود.

در مجموع، بسته‌شدن قونسلگری امریکا در پیشاور و قونسلگری فرانسه در کراچی تنها یک تغییر اداری نیست، بلکه بازتابی از دگرگونی واقعیت‌های سیاسی، امنیتی و راهبردی منطقه است. پس از تحولات افغانستان، کشورهای غربی حضور دیپلماتیک خود در منطقه را از شبکه‌های گسترده گذشته به سوی مدیریت مرکزی، محدود و کم‌هزینه بازتنظیم می‌کنند. اگر این روند ادامه پیدا کند، ممکن است در سال‌های آینده شکل روابط میان پاکستان و غرب، معادلات امنیتی منطقه و سیاست‌های منطقه‌ای قدرت‌های جهانی با تغییرات بیشتری روبه‌رو شود. این تحولات نشان می‌دهد که کشورهای غربی به جای حفظ شبکه‌های گسترده دیپلماتیک، به سمت ساختارهای انعطاف‌پذیرتر، متمرکزتر و متناسب با اولویت‌های جدید خود حرکت می‌کنند.

له هرات څخه ایران ته د غوښې ...

زیاتو کسانو ته یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړې ده.

د دوی په خبره، یاد مسلخ چې د ۵ میلیونو ډالرو په پانګونې جوړ شوی او هره ورځ پکې ۷۰۰ څاروي له معاینې او د وترنرو ډاکټرانو له تأیید وروسته غوښه بازار ته وړاندې کوي.

د هرات ځایي مسئولین هیله څرګندوي چې د تولیدي ظرفیتونو په لوړولو او د لازمو اسانتیاوو په برابرېدو سره به په راتلونکي کې کاونډیو هېوادونو ته د کرنیزو او د مالدارۍ محصولاتو صادرات نور هم زیات شي.

د نورستان له سېلاب ځپلو سره ...

هوټلونه، د ښاروالۍ ودانۍ او استوکنیز کورونه زیانمن او نړېدلي دي.

روان کال د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې سخته اورښتونو او سېلابونو خلکو ته درانه ځاني او مالي زیانونه اړولي دي.

تور مې تورمخي، سره مې سرو وینو کې رنګ وشړل!

سلطان محمود سالمزی

تاریخ شاهد دی چې افغان مؤمن او مېرني ملت د خپل پنځه زره کلن تاریخ زیاته برخه له نړیوالو استعماري او استکباري ځواکونو سره په ټپل شویو جګړو او معرکو کې تېره کړې ده. له مقدوني سکندر څخه راواخله، تر انګرېزي ښکېلاک، شرقي او غربي یرغلګرو پورې، افغانان په نابرابرو جګړو کې ښکېل شوي او د خپل ګران هېواد د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره یې د سپېڅلي جهاد په لړ کې د میلیونونو شهیدانو په ورکولو سره په هېواد کې د اسلامي نظام د بقا او حاکمیت لپاره قربانۍ ورکړې او له دېرو یرغلګرو څخه یې د آزادۍ ناوړې تر لاسه کړې ده، چې د یوې پېړۍ په اوږدو کې د درېیو سترو امپراتوریو ماتول یې سترې بېلګې دي.

پر واقعیتونو باید سترګې پټې نه کړو. نن چې نړۍ د یوه کلي حیثیت خپل کړې، هر ملت حق لري چې د خپل قانون، مذهب او کلتور په چوکاټ کې، په خپله مشخصه جغرافیه کې ژوند وکړي. هېڅوک دا حق نه لري چې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو او قوانینو کې مداخله او لاسوهنه وکړي.

خو له بده مرغه، بیا هم ځینې مغرض او زورواکي هېوادونه د خپلو شومو او ناروا موخو لپاره په هغو هېوادونو کې، چې له اقتصادي او نظامي پلوه کمزوري دي، د نیابتي، استخباراتي او تحمیلي جګړو له لارې غواړي خپلې اقتصادي کتې خوندي کړي او د نورو پر شتمنیو خپته واچوي. دوی د جګړو نوې پروژې پلې کوي او د ټپل شویو جګړو له لارې خپلې موخې تر لاسه کول غواړي، خو لکه څنګه چې پښتو متل وایي: «په زور کلي نه کېږي» خو دغه زورواکي بیا هم پر افغان باتور او قهرمان ملت خپله ازمویل شوې نسخه تکراروي، چې داد دوی د بې‌عقلۍ وروستی حد دی. هر هغه څوک چې د دې نسخې د عملي کولو هڅه کوي، په حقیقت کې په خپل لاس ځان ته د قبر له کیندلو پرته بله پایله نه لري.

الحمد لله، اوس چې زمونږ په هېواد کې اسلامي نظام حاکم دی او د سولې سپینې کوترې د هېواد پر ټوله جغرافیه د امن وزرونه غوړولي دي، نو دا پوښتنه پیدا کېږي چې زمونږ د هېواد بهرني او داخلي دښمنان، چې څو ځله ازمویل شوي، څنګه به یو ځل بیا دا جرئت وکړي چې د افغانانو پر وړاندې سرونه راپورته کړي؟

هغه څه چې افغان مؤمن او غیرتي ملت یې د ترلاسه کولو لپاره خپل سرونه د الله جل جلاله په لاره کې نذرانه کړل، نور به هېڅا ته د دې اجازه ور نه کړي چې زمونږ د هېواد او ملت پر ضد خپل شوم او ناولي پروګرامونه او پلانونه عملي کړي.

حقیقت باید ومنو او ورته تسلیم شو. لله الحمد، د ویاړ او افتخار ځای دی چې نن په یوه خپلواک او آزاد هېواد کې د ډاډمن امنیت په فضا کې سرلوړی ژوند کوو او هغه څه چې زمونږ ځورېدلي ملت یې هیله او ارمان درلود، د مېرنیو مجاهدینو په بې‌دریغه او بې‌سارو قربانیو تر لاسه شول؛ هغه قربانۍ چې د نړۍ په تاریخ کې یې بېلګه نه تر سترګو کېږي.

راځئ چې یو بل ته لاسونه ورکړو، د خپل اسلامي نظام د دفاع او ساتنې لپاره سره یو موتی شو، پر یو بل باور وکړو او د خپل ګران هېواد د بهرني او داخلي دښمن پر وړاندې هر وخت قربانۍ او سرښندنې ته چمتو واوسو، ترڅو د شهیدانو سپېڅلي ارمانونه ضایع نه شي.

هغه څه چې په تېرو نړدې پنځو کلونو کې ترسره شول، په راتلونکو سلو کلونو کې یې د ترسره کېدو هیله هم نه تر سترګو کېده. راځئ چې د خپل نظام او د دې ستر نعمت شکر ادا کړو او تر شا یې کلک ودرېږو.

لکه چې ما په خپل یو شعر کې ویلي:

تور مې تورمخي، سره مې سرو وینو کې رنګ وشړل
په متین عزم سپینه توره مې په جنګ وشړل
ما استکبار جهاني ته امتحان ورکړی
څه په تورخم، څه مې په ترو د سالنګ وشړل
اوس مې دا خپله لیلا بیا سینګاروم په خپله
د بل برېښځي مې یو غږ په یو غورځنګ وشړل
که په میوند کې شهید نه شوې، د ملالي احساس
تورزنو پېغلو مې پوځونه د فرنګ وشړل
تاریخ شاهد دی، التزام پرې هر دښمن کړی دی!
استعمارګر مې «سالمزیه» رنګارنګ وشړل

د پاکستان داخلي بحرانونه او د افغانستان پر وړاندې متناقض سیاست

حمید الله حمزه

د سویلي اسیا په معاصره جیوپولیټیکي معادله کې پاکستان له هغو دولتونو څخه شمېرل کېږي چې له څو لسیزو راهیسې یې سیاسي، امنیتي او اقتصادي وضعیت د دوامدارو تزلزلونو، بحرانونو او تناقضاتو ښکار پاتې شوی دی. د اقتصادي رکود، مالي اختناق، سیاسي انشقاق، امنیتي اضطراب، قومي نارضایتۍ او اداري فرسودګۍ دوام دا هېواد له داسې مرحلې سره مخ کړی چې د ستونزو د مدیریت وړتیا یې وړځ تر بلې تر پوښتنې لاندې راولي.

په دې لړ کې د پاکستان پوځي رژیم د دې پر ځای چې د خپلو ناسمو محاسباتو، ستراتېژیکو خطاوو او داخلي ناکامیو مسئولیت ومني، تل یې هڅه کړې چې د افکارو عامه مسیر له اصلي واقعیتونو څخه منحرف کړي او د افغانستان پر ضد د اتهام، تبلیغ او رواني جګړې سیاست تعقیب کړي. دغه دوه‌ګونی چلند له حسن همجواری، متقابل احترام او بین‌الدولي اصولو سره په ټکر کې دی او همدا رنګه د سیمې د امنیت، استقرار او اعتماد فضاء یې هم زیانمنه کړې ده.

نن پاکستان له داسې څو اړخیزو بحرانونو سره مخ دی چې جړې یې د همدې هېواد په داخلي جوړښت، سیاسي نظام، امنیتي تګلارو او اقتصادي سیاستونو کې نغښتې دي. اقتصادي انحطاط، د اسعارو د ارزښت دوامدار تنزل، د انفلاسیون تصاعد، د عامه پورونو تراکم، د بېکارۍ تفاقم، د تولیدي سکتور ضعف او د نړیوالو مالي مؤسسو پر مرستو شدیده اتکاء هغه واقعیتونه دي چې د پاکستان د اقتصادي وضعیت نازک انځور وړاندې کوي.

له اقتصادي ستونزو سره هممهاله، سیاسي صحنه هم له ژورو اختلافاتو ډکه ده. د واک پر سر دوامدار کشمکش، د سیاسي ګوندونو تقابل، د ملکي او پوځي ادارو تر منځ د صلاحیتونو منازعه او د ولسي اعتماد کمزوري کېدل هغه عوامل دي چې د دولت سیاسي مشروعیت یې له جدي ننګونو سره مخ کړی دی.

په امنیتي ډګر کې وضعیت لا پېچلی ښکاري. په پښتونخوا او بلوچستان کې د ناامنۍ دوام، د بېلابېلو وسله‌والو ډلو فعالیتونه، قومي اعتراضونه او د دولت پر وړاندې د مخالفتونو پراخېدل ښیي چې د امنیتي بحران اساسي عوامل داخلي منشأ لري او د هغو حل هم د کورنیو اصلاحاتو، سیاسي اجماع او عادلانه تګلارو غوښتنه کوي.

سره له دې تولو واقعیتونو، هر ځل چې په پاکستان کې امنیتي پېښه رامنځته کېږي، د پوځ او ځینو چارواکو لومړنی غبرګون دا وي چې د افغانستان نوم یاد کړي او د خپلو داخلي ناکامیو مسئولیت پر بهرنیو عواملو واچوي. په داسې حال کې چې د دغو ادعاوو د اثبات لپاره ډېر خله قانع کوونکي، مستقل او علني شواهد نه وړاندې کېږي، دغه ډول تبلیغاتي دریځونه د ستونزې د حل پر ځای د افکارو د انحراف او د سیاسي مسئولیت د انتقال وسیله ګرځي.

سیاسي او ستراتېژیک تحلیلونه له کلونو راهیسې دې ټکي ته اشاره کوي چې د پاکستان د پوځي حاکمیت د امنیتي تفکر بنسټ تر ډېره پر امنیتي محاسباتو، ستراتېژیک ژورواليو او د بهرنیو ګواښونو پر برجسته کولو ولاړ پاتې شوی دی. د همدې لیدلوري له مخې، هر هغه بحران چې د داخلي اصلاحاتو غوښتنه کوي، ډېر وخت د بهرني تهدید په قالب کې وړاندې کېږي، څو د افکارو عمومي جهت بدل او داخلي فشارونه کم شي. دا ارزونه د ګنو شنونکو نظر دی، که څه هم د پاکستان د پوځي رژیم رسمي دریځ دا دی چې پوځ د هېواد د ملي امنیت او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې مسئولیت لري، خو دوی لکه د تل په څېر په خپل مسئولیت کې پاتې راغلي دي.

له بلې خوا، افغانستان په وار وار اعلان کړی چې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې د مداخلې سیاست نه تعقیبوي او غواړي خپلې اړیکې د متقابل احترام او ښه ګاونډیتوب پر بنسټ تنظیم کړي. همدارنګه د دواړو هېوادونو تر منځ د اختلافاتو د حل یوازینی معقوله لاره د سیاسي تفاهم، ډیپلوماتیک تعامل او عملي همکاریو پیاوړتیا ده، خو د پاکستان پوځي رژیم تل تبلیغاتو، تورونو او رواني جګړې ته دوام ورکړی دی. یو څرګند حقیقت دا هم دی چې د افغانستان او پاکستان ولسونه د دین، تاریخ، جغرافیې، کلتور، اقتصاد او ټولنیزو اړیکو له پلوه مشترکې اړیکې لري. د دواړو ملتونو اصلي کتله په سوله، ثبات، اقتصادي همکارۍ او متقابل احترام کې ده، په هغو سیاستونو کې چې د بې‌اعتمادۍ، خصومت او دوامدارو کړکېچونو فضا رامنځته کوي دواړه ملتونه زیانمنېږي، خو له ټولو دېر زیان د پاکستان پوځي رژیم وینې، د دې ټولو زیانونو عامل او لامل پوځي رژیم دی.

د معاصرې نړۍ تجربې ثابتوي چې هېڅ دولت د تبلیغاتي روایتونو، مصنوعي بحرانونو او د مسئولیت د انتقال له لارې نه شي کولای اوږدمهالی ثبات تأمین کړي. دوامدار استقرار هغه مهال رامنځته کېږي چې حکومتونه د خپلو داخلي ستونزو د حل لپاره د اقتصادي ودې، ولسي مشارکت او مسئولانه سیاست لاره خپله کړي.

د پاکستان د ننني ستونزو اصلي سرچینې د دغه هېواد په داخلي سیاسي، اقتصادي او امنیتي جوړښتونو کې نغښتې دي. تر هغو چې د بحرانونو جړې په واقعبینانه، مسئولانه او اصلاح‌محوره تګلاره ونه ځپل شي، د بهرنیو لوبو پر وړاندې د اتهام، تبلیغ او فرافکنۍ سیاست به د ستونزو حل رامنځته نه کړي، بلکې د سیمې د بې‌ثباتۍ، بې‌اعتمادۍ او تقابل لمنه به لا نوره هم پراخه کړي. د سیمې د امنیت او دوامدار استقرار تضمین د متقابل احترام، دیپلوماتیک تعقل او کډو منافعو په رعایت کې دی، خو د پاکستان پوځي رژیم لا هم د خصومت، تقابل، تبلیغاتي هیاهو، فرافکنۍ، بحران‌محوره محاسباتو او ستراتېژیکو مغالطو پر سیاستونو اصرار لري؛ هغه سیاستونه چې نه د سیمې ثبات تضمینوي او نه هم د پاکستان د داخلي بحرانونو د حل کومه معقوله نسخه وړاندې کوي.

مولوي محمد یونس خالص؛ د علم، قلم ...

که څه هم د ناروغۍ له امله کمزوری شوی و، خو د هېواد د آزادۍ ارمان یې لا هم په زړه کې ژوندی و او تل به یې دا هیله څرګندوله چې که روغتیا ورسره یاري کړې وای، د پخوا په پرتله به یې لا پیاوړې مبارزه کړې وای. نن ورځ چې د اړوباسد مولوي محمد یونس خالص د وفات له شلم تلین سره سمون خوري، نو پکار ده چې د ده علمي، فکري او ملي میراث له سره ولولو، راتلونکو نسلونو ته یې ولېږدوو او د ده له ژوند، اخلاص، استقامت او خدمت څخه الهام واخلو. د داسې شخصیتونو ژوند مور ته دا رازده کوي چې ملتونه د خپلو رښتینو عالمانو، مصلحینو او مجاهدینو د خدمتونو پر مټ خپل هویت، عزت او تاریخي ویاړونه ژوندي ساتي. الله تعالی دې اړوباسد مولوي محمد یونس خالص «رحمه الله» ته د فردوس جنت لوړ مقام ور په برخه کړي او مور ټولو ته دې د ده د نېک فکر، اخلاص او خدمت د لارې د تعقیب توفیق راکړي.

د خالص بابا «رحمه الله» د جهادي روحیې انځور د ده په دې شعر کې ښه څرګندېږي:

مه خانده ظالمه! کړپهار د زولنو ته مې
کوره نتیجه کې آخر کار د زولنو ته مې
تاته غرابي، کوته قلفي، مظلوم بندي ښکارم
ناڅي د جنت حوري سینګار د زولنو ته مې
انس او جن لا څه چې پورته پورته اسمانو کې هم
غوږ ملایکان نیسي شرنګار د زولنو ته مې
خدای چې راته وایي څۀ دې راوړۀ، ورته وایم به
دا پۀ پښو کې وګوره پرهار د زولنو ته مې
ستا د ژوندانه د دایرې محیط که پام وکړې
نن سبا اړشوی دی پرکار د زولنو ته مې
مړ به شې راپرې به وخې او مـلا به دې در ماته کړي
دا قدرت ورکړی ربّ کوزار د زولنو ته مې
خېزکره «نبي خپله» پۀ مورچل باندې ورودانګه
ژرکره ملتفت ظالم پیکار د زولنو ته مې

کمک ۲.۴ میلیون دالری سویس برای ...

از بازگشت کنندگان فراهم می‌شود. سوئیس پیش از این نیز، میلیون‌ها دالر به افراد آسیب‌دیده از بحران‌ها و شوک‌های ناگهانی در افغانستان کمک کرده است.

د الشفا روغتون د بیارغونې چارې ...

او د روغتون د نورو اړینو برخو اساسي بیارغونه او تجهیز هم شامل دي، څو د ناروغانو لپاره د درملنې مناسب او معیاري چاپېریال رامنځته شي. د معلوماتو له مخې، د الشفا روغتون له بشپړېدو وروسته به په کې د زړه ناروغیو، د پښتورګو او هموډیالیز، سرطاني ناروغیو، عمومي جراحي، داخلې، صدري، جدي ځانګې (ICU) او بېرنیو خدماتو په کډون بېلابېلې تخصصي ځانګې فعالې وي. تاکل شوې ده چې دغه روغتون هره ورځ سلګونو ناروغانو ته معیاري روغتیایي خدمات وړاندې کړي او د پلازمېنې ترڅنګ د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه د ورغلو ناروغانو د درملنې اړتیاوې هم تر ډېره پوره کړي. د یادونې وړ ده چې اسلامي امارت په وروستیو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د روغتیایي مرکزونو د جوړولو، بیارغونې او تجهیز په برخه کې یو شمېر پروژې پیل کړې دي، خو هېوادوالو ته معیاري او دوامدار روغتیایي خدمات برابر او د روغتیایي سکتور بنسټیزې اړتیاوې پوره شي.

کندهار ته د کرنې او اقتصادي فرصتونو ...

سازمان مشر، د آسیا پراختیایي بانک مشر او د یاد بانک د مالي او اداري ملاتړ مشره شامله ده. ویل شوي چې د دغه سفر اساسي موخه د کندهار د کرنې سکتور د وضعیت ارزول او د اقتصادي فرصتونو د ملاتړ لپاره د اغېزناکو لارو چارو موندل دي. په همدې موخه به د پلاوي غړي د خپل سفر پر مهال د کرنې او اقتصادي فعالیتونو له بېلابېلو برخو څخه لیدنه وکړي او له اړوندو مسئولینو او متخصصینو سره به د موجودو ستونزو، ظرفیتونو او اړتیاوو په اړه خبرې اترې وکړي. د معلوماتو له مخې، په دغو لیدنو کې به د کرنیزو تولیداتو، د کلیوالي اقتصاد، د پانګونې د فرصتونو او د کرنیزو پروژو د پراختیا اړوند موضوعات هم وارزول شي، څو د راتلونکو همکاریو او پراختیایي پروګرامونو لپاره مناسبې طرحې چمتو شي. دا سفر په داسې مهال ترسره کېږي، چې نړیوالو پراختیایي بنسټونو په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د کرنې د سکتور پر پیاوړتیا، د کلیوالو سیمو د اقتصادي وضعیت پر ښه والي، د خوړو د خوندیتوب پر تأمین او د دوامدار او اقتصادي فرصتونو پر رامنځته کولو خانګړی ټینګار کړی دی.

ده‌ها جواز معدن‌کاری در پنجشیر صادر و ...

صادر کرده‌است، تا فعالیت‌های آنان مطابق اصول و مقررات نافذ تنظیم و قانونی شود. به گفته رییس معادن و پترولیم پنجشیر، از مجموع جوازهای توزیع‌شده، ۵ جواز مربوط به معادن بیروح و دو جواز مربوط به معادن گرین گارنیت بوده‌است. وی تأکید کرد که ریاست معادن و پترولیم پنجشیر متعهد به تنظیم، شفافیت و قانونمند ساختن فعالیت‌های معدن‌کاری حرفه‌ای است و تلاش می‌کند زمینه استفاده بهتر از منابع معدنی و ایجاد فرصت‌های کاری برای شهروندان را فراهم سازد.

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود که وزارت شهر سازی و مسکن در نظر دارد تا تهیه و تدارک ۳۹ قلم رنگ باب(کارتریج)مورد ضرورت وزارت شهرسازی و مسکن سال مالی ۱۴۰۵ دارای کود تدارکاتی MUDH/1405/NCB/G-1950 را به شرکت تجارتی و خدمات لوجستیکی خان محمد بابرزی دارای جواز نمبر (۷۳۰۰۷) به قیمت مجموعی ٤,۰۲٥,۲۹۰ (چهار میلیون و بیست و پنج هزار و دوصد و نود)افغانی اعطاء نماید .

بنآ اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج (۵)روز کاری طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهر سازی و مسکن واقع مکروریان سوم، مقابل مطبعه آزادی، ارایه نمایند .

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه و تدارک پرزه جات وسایط ریاست کابل برشنا را تحت شماره کابل برشنا- ۱٤۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۹ با شرکت تجارتی رحمت حمید زاده لمیتد دارنده جواز نمبر ٤٥٥٥ و با داشتن محل اصلی تجارتی }خراسان ماریکیت،قوای مرکز، کابل افغانستان} را مبلغ ۱۱۰۰۰۰۰ یک میلیون یک صد هزار افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه و تدارک ریکتفایر برای بطری های جدید سب استیشن شرق و تجهیزات اسکادا تحت شماره کابل برشنا- ۱٤۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۲۲ با شرکت تجارتی صفی الله روشن افغان دارنده جواز نمبر ۷۱۰۰٤ و با داشتن محل اصلی تجارتی }پل محمود خان مرکز، کابل افغانستان} را مبلغ ۱۸۹۰۰۰۰ یک میلیون هشت صدو نود هزار افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه و تدارک پرزه جات متفرقه ضرورت کابل برشنا تحت شماره کابل برشنا- ۱٤۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۱۳ با شرکت خدمات لوژستیکی یسری دارنده جواز نمبر D-61319 و با داشتن محل اصلی تجارتی } سرک ٤ کمپنی بازار ریگریشن، کابل افغانستان } را مبلغ ۱,۰۹٦,۱٥٥ یک میلیون نود و شش هزار و یک صد و پنجاه و پنج افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه و تدارک ریکتفایر برای بطری های جدید سب استیشن شرق و تجهیزات اسکادا تحت شماره کابل برشنا- ۱٤۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۲۲ با شرکت تجارتی صفی الله روشن افغان دارنده جواز نمبر ۷۱۰۰٤ و با داشتن محل اصلی تجارتی }پل محمود خان مرکز، کابل افغانستان} را مبلغ ۱۸۹۰۰۰۰ یک میلیون هشت صدو نود هزار افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان لیلام

موضوع : اعلان لیلام ۹۱٤ قلم اجناس داغمه جمعیت هلال احمر افغانی.

قرار است جمعیت هلال احمر افغانی بتاریخ ۷ / ٥ / ۱٤۰٥ - (۹۱٤) قلم اجناس داغمه خویش را مطابق قانون لیلام بشکل مزایده بفروش میرساند.

از آنعده اشخاص حقیقی، حکمی و شرکت های که علاقمند خرید اجناس فوق الذکر از طریق لیلام باشند، بتاریخ معینه به دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی واقع ناحیه پنجم افشار سیلو مراجعه نموده و پول تضمین (۱٥٪) فیصد قبل از شروع پروسه داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه و نصب و دروازه های PVC سب استیشن چمتله کابل برشنا تحت شماره کابل برشنا- ۱٤۰٥- داوطلبی باز ملی داخلی- ساختمانی- ۱۲ با شرکت ساختمانی و سرک سازی بریال اتل دارنده جواز نمبر ۱۰۰٤٥٥ و با داشتن محل اصلی تجارتی} کمپنی شهرک ریگریشن ناحیه ٥ مرکز، کابل افغانستان} را مبلغ ٤۳٤,٥۰۰ چهار صد و سی و چهار هزار و پنجصد افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان دعوت به داوطلبی

موضوع: پروژه تهیه و تدارک فلم اکسری مورد ضرورت شفاخانه تدریسی علی آباد برای سال مالی ۱٤۰٥ شماره دعوت به داوطلبی: MOHE/1405/ATH/NCB/G-05

پوهنتون علوم طبی کابل «ابوعلی ابن سینا» از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک فلم اکسری مورد ضرورت شفاخانه تدریسی علی آباد برای سال مالی ۱٤۰٥، اشتراک نموده و نقل شرطنامه را از تاریخ نشر اعلان الی ۱۸ روز تقویمی از مدیریت عمومی تهیه و تدارکات شفاخانه تدریسی علی آباد در اوقات رسمی به دست آورند.

شرطنامه متذکره را مطالعه و آفر خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

جلسه آفرگشایی به روز تعیین شده مندرج شرطنامه، ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، در شفاخانه تدریسی علی آباد، منزل ششم تعمیر داخله، اطاق کنفرانس آنکولوژی، واقع کارته سخی، ناحیه سوم، کابل - افغانستان برگزار میگردد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

ریاست عمومی رادیو تلویزیون در نظر دارد تا قرار داد پروژه تدارک وسایل و تجهیزات ۹ پایه رادیوی پلچرخی را با نمبر تشخیصیه RTA/1405/NCB/G-1843 به ارزش مبلغ ۱۲٥۱۸۰۰ افغانی با شرکت فرهاد صافی انترنیشنل لمتید عقد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که در زمینه اعتراض در زمینه داشته باشند می توانند خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت پنج روز تقویمی بطور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات ریاست مالی و اداری ریاست عمومی رادیو واقع سرک چهاردهم وزیر محمد اکبر خان ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرار داد منعقد نخواهد شد.۳۷۱۴

اعلان مفقودی

یک قطعه سند گمرکی هرات موتر بنز مدل ۲۰۱۰ نمبر انجن ۲۷۲۹٤٦۳۱٥٤۲۳۳٤ وشاسی نمبر DDN65EBYAA337639 به اسم عبدالتواب ولد هوشونگ مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۴۷

اطلاعیه اجاره دهی

مدیریت عمومی انکشاف زمین تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمامی داوطلبان وشرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امور سرمایه گذاری می باشند تقاضا به عمل می آید تا موضوع عبارت است از:

موازی۱۸/۲٥ هجده اعشاره دوپنج جریب زمین امارتی واقع ساحه ارغندی گذاری ولسوالی پغمان دارای کوردینات نمبر Y:3813284 X:493793 به منظور فعالیت سرمایه گذاری که سالانه فی جریب به مبلغ ۴۰۰۰۰ چهل هزار افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی به اشخاص حقیقی وحکمی به اجاره داده می شود.۳۷٥۶

تأکید افغانستان و ترکیه بر تقویت روابط ...

دو طرف روابط میان کابل و انقره را دارای پیشینه تاریخی دانسته و بر استفاده از ظرفیت‌های موجود برای توسعه همکاری‌های مشترک تأکید کردند. همچنان، طرفین برونئی دارالسلام را از کشورهای مهم در عرصه سیاسی منطقه خوانده و بر اهمیت تقویت روابط و همکاری‌های متقابل با این کشور تأکید کردند. این دیدار در حالی انجام می‌شود که نمایندگی‌های دیپلوماتیک افغانستان در کشورهای مختلف، بر گسترش روابط، ایجاد هماهنگی و تقویت تعاملات با کشورهای منطقه و جهان تأکید دارند.

د هوا له کرمېدو سره سم د سولرونو ...

پرچاوي زیاتېږي چې وخت نا وخت هېوادوال له کنبو ستونزو سره مخ کوي؛ خو اوسمهال يې بدیل د سولر بربېښنا کېدلی شي چې په همدې اساس يې پلور هم زیات دی.

دا چې د هېواد په ډېرو ولایتونو کې هوا کرمه شوې، هېوادوال د دوامداره بربېښنا له نه شتون څخه شکایت کوي او زیاتره بیا خپله ستونزه له سولرونو څخه په کتې اخیستنې را لنډه کړي او نړۍ خپلې ارتیاوې ورځنه پوره کوي. سولر پلورونکو د شریعت ورځپاڼې خبریال ته ویلي دي چې د هوا په کرمېدو سره يې بازارونه ښه شوي او د پلور کچه يې زیاته شوې ده. له دې ډلې د سولرونو پلورونکی جمعه خان وایي: له تېرو نړۍ لسو کلونو راهیسې سولر پلورم او په وروستیو کلونو کې بازارونه غوړېدلي دي او زیاتوي: د سولرونو پلور له هر موسم سره توپیر لري چې له ټولو زیات پېرودونکي بیا د هوا په کرمېدو سره لري، تر دې چې د ورځې له ۴۰ څخه تر ۲۰۰ پورې سولرونه پلورو. د ده په وینا: اوسمهال د سولرونو ارتیا زیاته شوې ده، ځکه چې بربېښنا وارداتي ده او د زیاتې پرچاوی په لړلو سره زیاتره هېوادوال په مرکز او ولایتونو کې، د سولرونو ډېرې کارونې ته مخه کوي او د بربېښنا ښه بدیل يې ګرځولي دي. همدارنګه د سولرونو نرخونو کې د لارو په بندېدو سره زیاتوالی راغلی دی؛ خو بیا د بازار ارتیاوې ور سره پوره کېږي او د راواردولو سرچینه يې د چین هېواد دی. د سولرونو یو بل پلورونکی، لطف الله ستانکزی وایي: دا چې د بربېښنا پرچاوي زیاته شوې ده، د هېوادوالو تر څنګ خصوصي او دولتي ادارو له سولر څخه ګټې اخیستنې ته مخه کړې ده، تر څو پرې د بربېښنا تشه ډکه کړي. د ستانکزي پر خبره: له سولرونو څخه ګټه اخیستنه زیاته شوې ده چې د مرکز په ګډون د بېلابېلو ولایتونو اوسېدونکي يې د اوبو را ایستلو او د روښنایي په برخه کې کاروي. په سولرونو تر ډېره د کورنیو د بربېښنا ستونزه حل کېږي او که سمه ګټه ورځنې پورته شي، نو یو سولر تر نړۍ خپلې ارتیاوې ورځنه پورې کار کوي. په ورته مهال د اقتصادي چارو کارپوه، محمد طاووس فرزاد وایي: افغانستان هر کال نړۍ ۳۰۰ لمریزې ورځې لري چې د سولري یا لمریزې بربېښنا په برخه کې ور څخه حیاتي ګټه پورته کېږي، تر دې چې تر ۲۲۰ کیلو واټه پورې د هېواد دننه د لمریزې بربېښنا ورتیا شته چې په ګټې اخیستنې سره يې تر ډېره د بربېښنا ستونزه حل کېږي او ورسره اړین سهولتونه برابرېږي. په ورته مهال د سولر پېرودونکي وسیع الله وایي: د بربېښنا په برخه کې له سولر څخه په ګټې اخیستنې سره مې ډېرې ستونزې حل شوي دي او ور څخه خپلې ارتیاوې پوره کوو او د بربېښنا د نه شتون تشه يې راډکه کړې ده. د یادونې وړ ده چې هېواد ته بربېښنا وارداتي ده چې په کې وخت ناوخت ستونزې پیدا کېږي، چې د ډېرو هېوادوالو تر څنګ د پانګوالو، سوداګرو، خصوصي سکتور، کارخونو او تولیدوونکو شرکتونو پر کاري بهیر منفي اغېزې کوي، نو ارینه ده چې دوامداره بربېښنا ولري چې دا چاره په لمریزې بربېښنا سره اسانه کېږي.

زیارمل هوتک

د لوګر ۳۰۰بستریز روغتون کې د وینې ...

د روغتیایي ځانبسیایني، د درملنې د کیفیت لوړولو او هېوادوالو ته د معیاري روغتیایي خدمتونو د برابرولو په برخه کې مهم ګام دی. د دغو نویو اسانتیاوو په فعالېدو سره به روغتیاپالان وکولای شي چې د وینې د کموالي او فزیکي درملنې په برخو کې ناروغانو ته پر وخت او معیاري خدمات وړاندې کړي او د درملنې لپاره د خلکو ارتیاوې تر ډېره په خپل ولایت کې پوره شي.

د قوشټپې-درزاب سړک د رغونې چارو ...

قرارداد له مخې روانې دي. دغه پروژه په درېیو لاټونو کې پلې کېږي، چې په کې د سړک ترځنګ د دوو پلونو، ۱۴۹ پلکوټو او ۴۲۵۳ مترو استنادي دېوالونو جوړول هم شامل دي. د پروژې لومړۍ برخه ۱۹.۸ کیلومتره اوږدوالی لري او ۵۸ سلنه پرمختګ يې کړی، دویمه برخه ۱۷.۴ کیلومتره ده او ۵۵ سلنه چارې يې بشپړې شوې دي، درېیمه برخه بیا ۱۳.۵ کیلومتره اوږدوالی لري او ۵۹ سلنه فزیکي پرمختګ لري. د ټولګټو وزارت د معلوماتو له مخې، د دې سړک د رغېدو په بشپړېدو سره به د قوشټپې او درزاب ولسوالیو ترمنځ ترانسپورتي اسانتیاوې زیاتې، د سوداګریزو توکو او کرنیزو محصولاتو لېږد رالېږد به اسانه او د خلکو د تګ راتګ ستونزې به راکمې شي.

کونړ ښاروالۍ د دوو پراختیایي پروژو ...

اسلامي امارت ژمن دی څو خلکو ته معیاري خدمتونه وړاندې او د هغوی د ژوند د اسانتیا لپاره بنسټیزې پروژې پلي کړي. د یادونې وړ ده چې څه موده وړاندې هم د اسعدآباد ښاروالۍ له لوري د ۹.۷ میلیونو افغانیو په لګښت د ښار په دویمه ناحیه کې د ۱۲۰۰ مترە کانکرېټي سړک د جوړولو چارې پیل شوې وې.

ملګري ملتونه دې د افغانستان اوسنیو ...

د افغانستان پر اقتصادي وضعیت او د خلکو پر ژوند منفي اغېزې کړې دي. د یادونې وړ ده، چې د افغانستان پر وړاندې د ملګرو ملتونو د بندیزونو د بیاکتنې موضوع او له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د تعامل څرنګوالی، لا هم په نړیوالو غونډو او دیپلوماتیکو بحثونو کې د مهمو موضوعاتو له ډلې شمېرل کېږي.

د تمویلاتو خدمتونه دې د هېواد ټولو سیمو ته ...

شمولیت د پراختیا، د خصوصي سکتور د ملاتړ او د هېواد د مالي او بانکي سکتور د لا پیاوړتیا لپاره د دوامداري همکارۍ پر اهمیت هم ټینګار وکړ. د یادونې وړ ده، چې د دې غونډې موخه په افغانستان کې د وړو مالي تمویلاتو د تضمین، د لا زیاتو اسانتیاوو د رامنځته کولو، د بلاعوضه مرستو د پراختیا او له تمویلاتي مؤسسو سره د تخنیکي همکاریو د لا پیاوړتیا لپاره د همکاریو پراخول وو.

آغاز کارزار تداوی رایگان چشم ...

چشم وزارت صحت عامه می‌تواند بخشی از مشکلات بیماران مبتلا به بیماری‌های چشمی را برطرف کند. محمدیوسف حبیب، متخصص چشم و مسئول تیم اعزامی وزارت صحت عامه، نیز گفت که در این کارزار، افزون بر ۴۰۰ عمل جراحی آب‌مروارید، نزدیک به ۵ هزار بیمار معاینه می‌شوند و برای آنان دوا و عینک نزدیک‌بین به‌گونه رایگان توزیع خواهد شد. به گفته وی، این کارزار به مدت یک هفته در شهر فیروزکوه، مرکز ولایت غور، ادامه خواهد داشت و بیمارانی که نیاز به مراجعه به شفاخانه نور کابل داشته باشند، از طریق این تیم به آن شفاخانه معرفی خواهند شد.

میدان وردګو کې سلګونو دوسیو ...

محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې له پخوا څخه هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. د دغو دوسیو له ډلې د ۱۰۲ دوسیو په اړه قضایي قرارونه صادر شوي، ۳۷ دوسیې فیصله شوې، ۲۹ دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي. نومورې زیاته کړه، چې په جزایي برخه کې هم ۱۲۳ جزایي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې له پخوا څخه هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې ډلې د ۴۱ دوسیو په اړه قضایي قرارونه صادر شوي، ۳۶ دوسیې فیصله شوې، ۳ دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي. د ده په وینا، د میدان وردګو ولایت محاکمو په تېره یوه میاشت کې ۱۹۷ بېلابېلې وثیقې هم اجراء کړې دي. ډیني عالم او د پوهنتون استاد مولوي رکن‌الدین مخلص شریعت ورځپاڼې ته وویل، چې افغانستان په نړۍ کې د اسلامي نظام یوه بېلګه ده او د ټولو هېوادوالو حقوق خوندي دي. ده زیاته کړه، چې د اسلامي امارت مشر، عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» تل مسئولینو ته سپارښتنه کوي، څو د خلکو ستونزو ته پر خپل وخت رسېدنه وکړي. بل لور ته یو تن هېوادوال عیسی محمد صافي وویل، چې پخوا په هېواد کې ډېرې ستونزې موجودې وې، خو د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو را وروسته، یادې ستونزې له منځه تللې او ولسونه د اسلامي امارت ملاتړ کوي.

سمیع الله مومند

هلمند کې د ۱۱.۵ میلیونو افغانیو په ...

بله خوا د سیمې اوسېدونکي د یادې پروژې پر پیلېدو خوښي ښیي او دا اقدام د خپلو ځمکو د خوندیتوب او د اوبو د لابنه مدیریت په برخه کې مثبت ګام یادوي.

آغاز ساخت دروازه‌های عبوری در مسیر ...

ساختمانی و توسعه‌یی بغلان سرمایه‌گذاری کنند. در این مراسم، قاری نقیب‌الله محمدی، شاروال شهر پلخمری، گفت که هر یک از این دروازه‌های عبوری با پهنای ۶۰ متر و بلندی ۱۲ متر، مطابق معیارهای انجنیری و ساختمانی ساخته می‌شود. او خاطرنشان کرد که کار این پروژه طی ۶ ماه تکمیل و آماده بهره‌برداری خواهد شد.

کندز کې د خصوصي پانګونې له لارې معیاري ...

ورزشپالو او کنډ شمېر ځوانانو په حضور کې د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شو. د مسئولینو په وینا، د دغه کلب په پرانیستل کېدو سره به د سنوکر ورزش د ودې، ورزشکارانو ته د معیاري اسانتیاوو د برابرولو او د ځوانانو د سالمو ورزشي فعالیتونو د پراختیا لپاره مناسب فرصتونه رامنځته شي. د یادونې وړ ده، چې په وروستیو کلونو کې په هېواد کې د بېلابېلو ورزشي ځانګو ترڅنګ د سنوکر ورزش هم د پراختیا په حال کې دی او د خصوصي پانګوالو پانګونه د ورزشي زېربناوو په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲٦۰۹۰٦۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Tuesday 21 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1112

له بیجنګ څخه تر هرات پورې لومړنی مستقیم ریلي ټرانزیټ پیل شو

ایراني رسنیو راپور ورکړی، چې د بیجنګ-ایران-افغانستان د مستقیم ریلي ټرانزیټ لومړنی قطار هرات ولایت ته ورسېد. د ایران-افغانستان د ریلي دهلیز مسئول مصطفی رضایي ویلي: دا لومړی ځل دی، چې یوه باروړونکي محموله له چین څخه تر افغانستانه پرته له بیا بارولو لېږدول کېږي. د ده په وینا، په دې محموله کې ۵۰۰ ټنه MDF تختې شاملې دي، چې له بیجنګ څخه بار شوې وي. یاده محموله د ترکمنستان له لارې د ایران د ریل شبکې ته داخله او د خواف-هرات وسپنې پټلۍ له لارې د هرات روزنک تمځي ته رسېدلې ده. رضایي ویلي: دغه مستقیم ریلي مسیر د پخوانیو لارو په پرتله د توکو د لېږد وخت او لګښت کموي. ده زیاته کړې، د دې دهلیز فعالېدل به د چین، ایران، افغانستان او منځنۍ اسیا ترمنځ سوداګریزې او ټرانزیټي اړیکې نورې هم پیاوړې کړي.

هند: ملګري ملتونه دې د افغانستان اوسنیو واقعیتونو ته په کتو مناسبه تګلاره غوره کړي

د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د هند دایمي استازي هریش پوروَتانني، یو ځل بیا د افغانستان په اړه د امنیت شورا غونډه کې د دغه هېواد پر وړاندې د ملګرو ملتونو د لګېدلو بندیزونو د بیاکتنې غوښتنه کړې ده. نومورې ویلي: په افغانستان کې په تېرو پنځو کلونو کې د رامنځته شویو تحولاتو په پام کې نیولو سره، هغه بندیزونه او نور محدودوونکي اقدامات چې پخوا وضع شوي وو، اړتیا لري چې له سره وارزول شي. د هند دایمي استازي ټینګار وکړ، چې د افغانستان د اوسني وضعیت او واقعیتونو له مخې باید مناسبه او اغېزناکه تګلاره غوره شي او د افغانستان اړوند پرېکړې د موجودو شرایطو پر بنسټ وارزول شي. هریش همدا راز د افغانستان پر خاوره د پاکستان هوایي بریدونو ته اشاره وکړه او د ملګرو ملتونو د مرستندوی پلاوي (یوناما) د راپور په حواله یې ویلي: دغو بریدونو ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اړولې ده. ده پاکستان د افغانستان پر وړاندې د سوداګریزو او ټرانزیټي محدودیتونو په لګولو هم تورن کړ او ویې ویل: دغو محدودیتونو... **۳مخ**

دافغانستان بانک:

د تمویلاتو خدمتونه دې د هېواد ټولو سیمو ته وغځول شي

د افغانستان بانک لومړي مرستیال، صدیق‌الله خالد، د افغانستان د تمویلاتو د تضمین بنسټ (ACGF) له مرستیال، درک جوزف تیسن او مل پلاوي سره وکتل. د افغانستان بانک د خبرپانې له مخې، په دې غونډه کې دواړو لوریو د وړو مالي تمویلاتو د تضمین د پراختیا، د بلاعوضو مرستو د وړاندې کولو او پیاوړتیا او له مالي مؤسسو سره د تخنیکي همکارۍ د پراختیا په اړه خبرې وکړې.

صدیق‌الله خالد د هېواد د مالي او بانکي سکټور د ودې او پیاوړتیا په برخه کې د افغانستان بانک پر ژمنتیا ټینګار وکړ او له یاد بنسټ څخه یې وغوښتل چې د هېواد په ټولو سیمو کې، له هر ډول توپیر پرته، د تمویلاتو خدمتونه وړاندې کړي. د مرکزي بانک په وینا، دواړو لوریو د مالي ... **۳مخ**

آغاز کارزار تداوی رایگان چشم در غور

همزمان با آغاز کارزار تداوی رایگان چشم در ولایت غور، ۴۰۰ عمل جراحی آب‌مروارید، معاینه نزدیک به ۵ هزار بیمار، توزیع دوا و اهدای عینک نزدیک‌بین برای یک‌هزار تن انجام می‌شود. شیخ عبدالواحد حماس، رئیس صحت عامه غور، گفته‌است که در چارچوب این کارزار، ۴۰۰ عمل جراحی آب‌مروارید انجام می‌شود. همچنان نزدیک به ۵ هزار بیمار معاینه، برای آنان دوا توزیع و برای یک‌هزار تن نیز عینک نزدیک‌بین فراهم می‌شود. وی این کارزار را مؤثر دانست و گفت که با توجه به سخت‌گذر بودن ولایت غور و مشکلات اقتصادی مردم، اعزام تیم تداوی ... **ص۳**

میدان وردګو کې سلګونو دوسیو ته رسېدنه شوې

شریعت: دسترې محکمې مسئولینو شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې د میدان وردګو ولایت د مرافعې محکمې، د بهار ابتدائیه محکمې او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په تېره یوه میاشت کې ۲۴۸ دوسیو ته رسېدنه کړې او ورسره یې ۱۹۷ بېلابېلې وثیقې هم اجراء کړې دي. د سترې محکمې مرستیال ویاند قاري منصور احمد حمزه شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې په یاده موده کې د حقوقو په برخه کې ۲۰۵ حقوقي دوسیې ... **۳مخ**

هلمند کې د ۱۱.۵ میلیونو افغانیو په لګښت یوه ویاله جوړېږي

د هلمند د کرشک ولسوالۍ اړوند بندبرق سیمه کې د ۱۱.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د یوې ویالې د جوړېدو چارې پیل شوې. ځایي مسئولینو ویلي چې یاده پروژه د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ جوړېږي چې چارې به یې تر راتلونکو دوو میاشتو پورې بشپړې شي. یاده ویاله چې ۲۵۰ متره اوږدوالی او ۷ متره پلنوالی لري مسئولین یې د معیاري جوړېدو په برخه کې داډ ورکوي.

د یادې ولسوالۍ ښارګوال مفتي قدرت الله وصال ویلي، چې د دې ویالې په جوړېدو سره به د بغرا کانال ته هغه بهېدونکي نامنظمې اوبه مدیریت شي چې له امله یې هر کال کرنیزې ځمکې زیانمنېدلې. د نومورې په خبره، اړوندې ادارې د اوبو د مدیریت او عامه پروژو په برخه کې هڅو ته دوام ورکوي څو خلکو ته لا زیاتې اسانتیاوې چمتو شي. ... **۳مخ**

آغاز ساخت دروازه‌های عبوری در مسیر شاهراه‌های شمال کشور

دروازه‌های عبوری در مسیر شاهراه‌های کابل-بلخ و کابل-کندز، با هزینهٔ ۷ میلیون افغانی در شهر پلخمری بغلان ساخته می‌شود. فاروق خپلواک، سخنگوی والی بغلان گفت که در مراسم آغاز این پروژه، مولوی عبدالله مختار، والی بغلان، گفت که این پروژه پس از تلاش‌های پی‌هم رهبری اداره محلی این ولایت، از سوی شرکت ساختمانی «چونغر پلخمری» با هزینه ۷ میلیون افغانی تطبیق می‌شود. وی افزود که ساخت این دروازه‌ها در زیبایی شهر پلخمری، تقویت هویت شهری و توسعه عمرانی نقش مهم خواهد داشت. والی بغلان از همکاری شرکت یادشده قدردانی کرد و از سایر سرمایه‌گذاران ملی نیز خواست که در پروژه‌های ... **ص۳**

کندز کې د خصوصي پانګونې له لارې معیاري سنوکر کلب پرانیستل شو

د کندز ولایت د بدني روزنې او ورزش ریاست په همکاري، د محمد داود محمدي او محمد اقبال په مالي پانګونه، د ۴۵ زره امریکایي ډالرو په لګښت د سنوکر یو معیاري کلب د دغه ولایت په مرکز کې پرانیستل او کتې اخیستنې ته وسپارل شو. یاد کلب پنځه معیاري سنوکر مېزونه لري او د کندز ولایت د بدني روزنې او ورزش د رئیس قاري عزت‌الله سنان، د ورزشي چارو د آمر محمد قیوم رحیمي، د سیمه‌ییزو مسئولینو ... **۳مخ**

ده‌ها جواز معدن‌کاری در پنجشیر صادر و تمدید شد

ریاست معادن و پترولیم پنجشیر، صدور ۸۸ جواز جدید معدن‌کاری برای متقاضیان واجد شرایط و تمدید ۷۹ جواز معدن‌کاری حرفه‌ای از سوی این اداره را خبر داده‌است. مولوی محمد قاسم امیری، رییس معادن و پترولیم پنجشیر، گفته است که این جوازها، مطابق رهنمود این اداره برای متقاضیان واجد شرایط، صادر و یا تمدید شده‌است. وی افزود که ریاست معادن و پترولیم پنجشیر همچنان یک‌هزار و ۷۴۶ کارت معدن‌کاری حرفه‌ای برای کارگران و معدن‌کاران این ولایت را ... **ص۲**

د عراق اسلامي مقاومت ډلې امریکا ته د مستقیمې جګړې خبرداری ورکړ

ایسنا اژانس راپور ورکړی، چې د عراق اسلامي مقاومت ډلې ویلي، چې که امریکا پر ایران د خپلو بریدونو د پراخولو ټینګار وکړي، په مستقیم ډول به جګړې ته داخل شو. د عراق اسلامي مقاومت په هغه بیان کې چې پرون دوشنبه سهار وختي خپور شو، ټینګار کړی چې که امریکایي دښمن پر ایران د خپلو تېریو د پراخولو ټینګار وکړي، نو اسلامي مقاومت به د دغه دښمن پر وړاندې په مستقیم او بشپړ ډول جګړې ته داخل شي. دې ډلې له دې وړاندې هم د ایران په ننګه پر امریکا بریدونه کړي وو.

حملات گسترده روسیه بر اوکراین؛ ۷ کشته و ۴۹ زخمی برجا گذاشت

مقام‌های اوکراینی گفته‌اند که در حملات گسترده موشکی و هوایی روسیه بر شهرهای کی‌یف، خارکیف و زاپوریژیا، دست‌کم ۷ تن کشته و ۴۹ تن دیگر زخمی شده‌اند. بر بنیاد گزارش‌ها، روسیه در این حملات از ده‌ها موشک و هواپیمای بی‌سرنشین استفاده کرده و شماری از ساختمان‌های مسکونی و تأسیسات غیرنظامی آسیب دیده است. نیروهای اوکراینی مدعی شده‌اند که شماری از موشک‌ها و پهپادهای مورد استفاده در این حملات را سرنگون کرده‌اند. ولودیمیر زلنسکی، رئیس‌جمهور اوکراین گفته است که تقویت دفاع هوایی در برابر موشک‌های بالستیک، مهم‌ترین اولویت این کشور است. مقام‌های اوکراینی می‌گویند که روسیه در هفته‌های اخیر حملات موشکی خود بر شهرهای این کشور را افزایش داده است.



له جنوبي لبنان څخه د اسرائیلي رژیم پر بشپړ وتلو هوکړه وشوه

العربیة د یوې لبناني سرچینې له قوله راپور ورکړی، چې د لبنان ولسمشر جوزف عون او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مارکو روبیو له جنوبي لبنان څخه د اسرائیلو پر بشپړ وتلو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوکړې د عملي کولو پر پیل موافقه کړې ده. دغې سرچینې ویلي چې عون په واشنګټن کې له روبیو سره په لیدنه کې غوښتنه کړې چې اسرائیل دې له هغې لومړنۍ سیمې څخه د وتلو بهیر پیل کړي چې په هوکړه کې ټاکل شوې ده. عون همداراز له امریکا څخه غوښتي چې د لبنان له پوځ او پوځي بنسټونو سره خپل ملاتړ زیات کړي.